د پښتنو میندو له خوا ۲۰۰۹/۱۲/۲۶م

# د یوې مور غوښتنه د میرمن البرایټ څخه

زه په ۱۹۹۶ م کال کې د یوې لنډې مودې له پاره د خپلوانو د لیدو په خاطر پیښور ښار ته تللې وم ، زما د تره لور د پیښور ښار د ناصر باغ په کلي کې چې د افغان کډوالو پنډغالیي هم وه په یوه ښونځي کې د ښوونکې دنده تر سره کوله، دا ښونځي د بي بي مریم په نوم یادیده. میاشتني تنخا یې ۱۲۰۰ کالدارو ته رسیده، پدې پیسویې د کډوالی سختي شپې او ورځي تیرولي ځکه دا او دده په ښان نور د علم خاوندان د زماني بی رحمه سیلی را په مخه کړي وه زما د تره لور د کډ والی د کړاو نه ډک ژوند په هکله راته ډیرې قصې وکړي او په تیره بیا د پاکستان د حکومت د تریخ او غیر انساني برخورد څخه د کډوالو په مقابل کې . د کډوالو وهل، ټکول، ورڅخه پیسي په زور اخیستل، دوي بی ګناه جیلو ته اچول، د دوي په جیبو د پولیسو له خوا جرس اچول او پدې جرم د هغوي څخه پیسي اخیستل، د کار په درشل کې د پولیسو له خوا د هغوي وهل او زورول.

دا قیصو زه دیره خواښینه کړم او پدې هکله ژور فکر یووړم د خپل تره لور ته مي وویل چې د پاکستان خلک خو مسلمانان دي دوي ولي داسي ناجایزه په دې بی کوره کډوالو کوي؟ د یوې خوانه روسانو په ډیره بی رحمي سره زمونږ په هیواد یرغل وکړ موږ دوي ته پناه راوړه د پاکستانیانو د ظلم او زور څخه اوس چیرته لاړ شي ؟

د تره لور راته وویل چې په ډیره ښه موقه زمونږ کور ته راغلي یې . ما ورخخه و پوښتل چې څنګه ؟ راته یې وویل چې زمونږ ښونځي ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیره میرمن البرایټ راځي ددې خبر په اوریدو زه هم خوشحاله شوم چې د میرمن البریټ راتګ دې ښونځي ته حتمي یو ښه زیرې به زمونږ دې وران ویجاړ هیواد ته او یا د افغان کډوالو ژوند د سمون له پاره ولري . د ناصر باغ ښونځي چې د ختو څخه جوړ شوې یو ښونځي وه ، چتونه یې څوړند او د باران په ورځو به څڅیدل، د ټولګیو ځمکه به ټوله شنه خټه وه دافغان کډوالو ماشومان به د پلاستیکي سترنجیو په سر د زدکړي له پاره ناست وه ۵۰ ٪ دا د هغه افغان کډ والو ما شومان وه چې پلارونه یې د روسي یرغلګر پوځ سره په مخامخ جګړه کې ځانونه شهیدان کړي وه. د میرمن البرایټ د راتګ خبر د ناصر باغ په ټول پنډ غالیي کې خپور شوه په دغه شپو کې د ناصر باغ خلک شپه او ورځ ډیر آرامه وه ځکه د پاکستاني پولیسو له خوا د پنډغالیي امنیتي چارې ډیرې مظبوطي ښوي وي، ټول افغان کډوال د میرمن البرایټ راتګ ته سترګي په لاره وه، د څو ورځو انتظار نه پس د چورلکی په وسیله د پنډغالیي په بیدیا کې راکوزه شوه په څو شیبو کې د ناصر باغ ښونځي ته راورسیده (( د ښونځي زده کوونکو او لویانو د خپل په اوښکو ورته هرکلي ووایه )) د امریکا د بهرنیو چارو وزیره د څو لحظو له پاره په ښونځي کې تمه شوه د نومورې چې په سرګوکې یې هم د اوښکي لیدل کیدي په ډیره مینه سره یې د کډوالو د ماشومانو پر مخو لاس تیر کړ او داسي وویل :

ای معصومو ما شومانو زه چې نن دلته راغلي یم ما ستاسي له پاره لوی زیرې راوړي دي چې هغه زیرې ستاسي د ژوند د آرامي اړ سو کالی په خاطر دي تاسي به انشالله د خیره ډیر زر حپل هیواد ته ستانه شي دا زما ږعده ده له تاسو ټولو وړو او لویانو سره چې زه په د یو انساني ژوند اسانتیاوي د افغانستان په دننه تاسو ته برابروم .

ګراني میرمن البریټ !



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

زه غواړم چې تاسو د خپل وعدي په اړوند د ناصر باغ د ښونځي د ټولو زده کوونکو او لويانو په حضور چې کړي وه څه وکړل، آيا د ستاسو وعده د ټولو پښتنو ميندو او د ښښتون قوم په خپله خاوره کې د وينو سيلابونو بيول وه ؟ آيا د پښتون قوم نابودول وه؟ ستا زيرې زمونږ نمجنې سترګې وچې نکړي مورې هم نمجنې کړي ستاسي زيرې په کوزه او بره پښتون خوا کې د پښتون قوم د مرګ زيرې وه مونږ فکر کوو چې د ستا د زيرې په رڼا کې يو پښتون د طالب په نوم او بل پښتون د فوجې په نوم وژل کيږي په صورت کې چې امريکايې پوځ په ۴۸ ساعتو کې ټول افغانستان يې د طالب له وجود څخه پاک کړ خو نن ۱۰۰۰۰ انګريزي پوځ نشي کوالاي وړوکې هلمند د هلمنديانو له پاره حوړ کړي په هر صورت نن تول په دي پوهيږي چې غوا تږره او شيدې يې سپينې دي . نن افغان ولس له تاسو څخه هيله لري چې يو ځل بيا په خپله وعدي له سره غور وکړي او د ټولو پښتنو د ټپونو له پاره د ملهم پټي وګرځي او د ستاسو د ادرس له لارې په ټولو صلح غوښتونکو نړيوالو باندې مونږ ميندو همدا غږ دي .

په ډيره مينه او پښتنې احساس

د پښتنو ميندو له خوا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ